



ببشسیبسشی














# د والدينو او پالونکو لاربنود













دا کتاب د سکاټلینډ د تعلیمي انسټیټیوټ لخوا ډالۍ دی

د سکاټلینډ ترټولو لوی
او خورا اغیزمن
تعلیمي اتحادیه

## دا کتابچه څنګه ژباړلی شئ

## Tłumaczyć Traduire ترجمه

د دې کتابچې کومې بلې ژبې ته د ژباړلو لپاره، تاسو کولی شئ د اي آی اېس ویب پاڼه کې د پي ډي ایف نسخه وکاروئ:

www.eis.org.uk/welcometoscotland

سره د

www.translate.google.co.uk

ګوګل کولی شي هغه ویب پاڼې هم وژباړي چې له ۱۳-۱۶ مخونو کې لیست شوي دي



# سکاټلینډ ته ښه راغلاست

دا کتابچه د هر ماشوم یا ځوان د والدینو / پالونکو لپاره ده څوک چې په دې وروستیو کې له بل هیواد څخه سکاټلینډ ته رسیدلی او چا چې د اې آی اېس(د سکاټلینډ تعلیمي انسټیټیوټ) د ښوونکو د سوداګرۍ اتحادیې څخه د ښه راغلاست کڅوړه ترلاسه کړې وي.

اې آی اېس د هر ماشوم او ځوان لپاره د ښې زده کړې کمپاین کوي. زموږ غړو له موږ څخه غوښتل چې ټولو ماشومانو او ځوانانو ته چې نوي سکاټلینډ ته راغلي دي ښه راغلاست ووایو او دوی ته د دوی د حقونو په اړه خبر ورکړو. له همدې امله موږ د ښه راغلاست پیکونه یا کڅوړې جوړ کړل.

د ښه راغلاست کڅوړه چې ستاسو ماشوم ترلاسه کړې دا ده چې دوی ته د سکاټلینډ په اړه لږ څه ووایی او دلته د دوی حقونه څه دي هغه هم تشریح کړي. دا کتابچه د دې لپاره ده چې والدین/پالونکي ته په سکاټلینډ کې د ښوونې او روزنې سیسټم په اړه ځینې معلومات چمتو کړي. موږ امید لرو چې تاسو به یې ګټور ومومئ.



ILLUSTRATIONS BY JAMIE SQUIRE

## د ماشومانو حقوق

حقونه" هغه څه دي چې هر ماشوم یا ځوان باید ولري یا تري د خوندي، سالم او خوشحاله ژوند کولو لپاره برخمن " اوسي. ملګري ملتونه وايي، ټول هغه ماشومان او تنکي ځوانان چې عمرونه يې له ۱۸ کلونو کم وي، يو شان حقونه لري که دوی هرڅوک وي. فرق نه کوي چې مور او پلار يې څه کوي، په کومه ژبه خبرې کوي، مذهب يې څه دی، هلک وي او که جلکۍ، د دوی کلتور څه دی، ايا دوی معلول دي يا نه، يا دوی شتمن دي که غريب.

د ټولو ماشومانو او ځوانانو حقونه د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقونو په کنوانسيون (يو اين سي آر سي) کې ليست شوي چې نږدې د نړۍ هر هیواد يې لاسليک کړی. د يو اين سي آر سي ټول حقونه يو له بل سره تړلي دي، او ټول يو شان مهم دي.

دلته د ماشومانو د حقونو لپاره لاربښود شتون لري:
**www.unicef.org/rightsite**

## د ماشومانو د زده کړې حق

د زده کړې حق خورا مهم دی. په نړۍ کې ټول ماشومان او تنکي ځوانان حق لري چې ښوونځي ته لاړ شي او په ښه کيفيت زده کړه ترلاسه کړي.

هغه ماشومان او تنکي ځوانان چې خپل هيواد پريږدي او نوي هيواد ته د مسافر په توګه راغلي وي او هغه کسان چې د مهاجرو په توګه خپل هيواد پريږدي، هم حق لري چې ښه تعليم وکړي.

په سکاټلينډ کې هر ماشوم د ۵ او ۱۶ کلونو ترمنځ په ښوونځي کې د ورېا ځای حق لري.

د ۱۶ کلنۍ څخه وروسته، ځوانان کولی شي خپله غوره کړي چې دوی څنګه غواړي خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او يا هم وړاندې زده کړه ونه کړي.



## خپل د زده کړو سره د اضافي ملاتړ حق

په نړۍ کې ټول ماشومان او ځوانان حق لري چې د دوی د زده کړې سره اضافي مرستې وشي که دوی معلول وي. په سکاټلینډ کې، ماشومان او ځوانان، یا د دوی مور او پالر/پالونکي د دوی په استازیتوب حق لري چې په ښوونځي کې د دوی د زده کړې لپاره د اضافي مرستې او ملاتړ غوښتنه وکړي کله چې دوی ورته اړتیا ولري، حتی که دوی معیوب هم نه وي.

په سکاټلینډ کې، د زده کړې اضافي مالتړ قانون (۲۰۰۴) او د عمل سره ضمیمه د مور او پلار/پالونکي په توګه ستاسو حقونه او ستاسو د ماشوم حقونه په ښوونځي کې د اضافي ملاتړ ترلاسه کولو لپاره ټاکي. دوی ښوونځیو، سیمه ییزو چارواکو او نورو ادارو ته هم وایي چې دا څنګه ترسره کیږي.

تاسو کولی شئ دلته نور معلومات ومومئ:
**enquire.org.uk/advice-for-parents**

## له تعلیم څخه د زده کړې حق

د ماشومانو ښوونه او روزنه باید داسې جوړه شي چې له دوی سره مرسته وکړي چې خپل استعدادونه او وړتیاوې وکاروي، او د دوی سره په سوله ایز ژوند کې مرسته وکړي، د چاپیریال ساتنه وکړي او د نورو خلکو درناوی وکړي.

د نړۍ ټول ماشومان او تنکي ځوانان د خپل کلتور، مذهب او ژبې او د خپلې کورنۍ د تاریخ، شالید او عقایدو په اړه د زده کړې حق لري. دوی حق لري چې په خپلو زده درسونو کې د دې شیانو په اړه زده کړه وکړي.

په ښوونځي کې ستاسو ماشوم به وکولی شي د پوهې په ډیرو برخو کې شیان ومومي او کشف کړي، او نوي مهارتونه زده کړي. دوی به وکولی شي خپل فکرونه او نظرونه د لیکلو، خبرو اترو او هنري بیان له لارې له نورو سره شریک کړي، مګر دا چې دا د نورو لپاره د ضرر او کړاو سبب شي.

## د ماشومانو حق چې خپل ملګري غوره کړي

په نړۍ کې ټول ماشومان او ځوانان حق لري چې خپل ملګري وټاکي. مکتب د نویو خلکو سره د لیدو لپاره ډیرې ښه فرصتونه ورکوي چې دا اکثره د دوی همزولي وي. دا نور خلک کیدای شي چې چاپیریال یې دویته ورته وي یا هم مخالف وي، او دوی کولی شي سره ملګرتیا وکړي.



| د زده کړې ځای | د چا لپاره دی | کله دوی ګډون کولای شي |
|---|---|---|
| نرسري یا وړکتون | ماشومان له ۳ یا ۴ کلنۍ څخه | په سکاټلینډ کې هغه ماشومان چې عمرونه یې د ۳ یا ۴ کلونو دي (او ځینې یې چې ۲ کلن وي) په کال کې د ۶۰۰ ساعتونو د لومړنۍ زده کړې او د ماشوم پاملرنې حق لري. دا معمولا د مودې په جریان کې په اونۍ کې شاوخوا ۱۶ ساعته وي. |
| ابتدایه ښوونځي<br><br>ابتدایه ۱ – عمر ۵<br>ابتدایه ۲ – عمر ۶<br>ابتدایه ۳ – عمر ۷<br>ابتدایه ۴ – عمر ۸<br>ابتدایه ۵ – عمر ۹<br>ابتدایه ۶ – عمر ۱۰<br>ابتدایه ۷ – عمر ۱۱<br><br>( کله ناکله ماشومان په 4 کلنۍ کې ښوونځي پیل کوي خو دا د دوی د زیږون نیټې سره تړاو لري.) | ماشومان له ۵ کلنۍ نه تر ۱۲ کلنۍ پورې | دوشنبه تر جمعه، معمولا د سهار شاوخوا ۹ بجو څخه د ماسپخین تر ۳:۳۰ بجو پورې، په کال کې ۱۹۰ ورځې.<br><br>ښوونځي په ژمي او دوبي کې د رخصتیو لپاره تړل کیږي، او د کال په اوږدو کې په مختلفو نورو وختونو کې هم رخصت وي. د خپل د سیمې له شورا سره وګورئ خپل د ښوونځي د رخصت د معلومولو لپاره، یا پخپله د ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. |
| مینځنی ښوونځی<br><br>د منځني ښوونځي ۱ نه تر ۴ کال پورې مکتب جبري دي. ماشومان باید لاړ شي.<br><br>ثانوي کلونه ۵ نه تر ۶ پورې اختیاري دي - ماشومان په خپله خوښه کوي چې لاړ شي. | ماشومان او ځوانان چې عمرونه یې له ۱۲ نه تر ۱۶ کلونو دي<br><br>د ۱۶ کلونو نه تر ۱۸ کلونو پورې ځوانان | دوشنبه تر جمعه، معمولا د سهار شاوخوا ۹ بجو څخه د ماسپخین تر ۳:۳۰ بجو پورې، په کال کې ۱۹۰ ورځې.<br><br>ښوونځي د کال په اوږدو کې په مختلفو وختونو کې د رخصتیو لپاره تړل کیږي. . د خپل د سیمې له شورا سره وګورئ خپل د ښوونځي د رخصت د معلومولو لپاره، یا پخپله د ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. |
| عالیه زده کړې یا کالج<br><br>کالج د هغو ځوانانو لپاره اختیاري دی چې عمر یې ۱۶ یا ډیر وي او چې په کالج کې د نوم لیکلو وړ وي. | هغه ځوانان چې ۱۶ کلن یا له دی ډیر وي | وختونه توپیر لري - دا په متعلم او هغه څه پورې اړه لري چې دوی یې مطالعه کوي.<br><br>ځینې زده کونکي کولی شي وړیا ګډون وکړي. د کالج سره وګورئ. |
| د لوړو زده کړو موسسه (پوهنتون)<br><br>پوهنتون د ۱۷ کالو یا ډیر عمر لرونکو ځوانانو لپاره اختیاري دی خو په دې شرط چې د ننوتلو وړ وي. | ځوانان، معمولا ۱۷ یا ۱۸ کلن او له دی نهد ډیر عمر لرونکي | وختونه توپیر لري - دا په محصل او هغه څه پورې اړه لري چې دوی یې لولي.<br><br>ځینې محصلین کولی شي وړیا ګډون وکړي.<br><br>ځوان پناه غوښتونکي ممکن په پوهنتون کې د زده کړې د ترسره کولو لپاره سکالرشپ ته لاسرسی ومومي. د پوهنتون سره وګورئ.<br>د نورو معلوماتو لپاره ضمیمه وګورئ. |

# ښوونیځ کال

په سکاټلینډ کې، ښوونیز کال د اګست په میاشت کې پیل کیږي او په جون کې پای ته رسیږي. د کال په اوږدو کې بیلابیل رخصتۍ شتون لري: د جون په وروستیو کې، په جولای کې او د اګست په لومړیو کې د دوبي یا اوړي اوږده رخصتي وي. په دی وختونو کې مکتب رخصت وي. ښوونځي په کال کې ۱۹۰ ورځې خلاص وي.



## د ښوونځي یوه عادي ورځ

د ښوونځي ورځ معمولا د سهار له ۹ بجو څخه د ماسپښین تر ۳:۳۰ یا ۴ بجو پورې دوام کوي، د دوشنبې څخه تر جمعې پورې، که څه هم هر ښوونځی خپل مهال ویش لري. ځینې ښوونځي د جمعې په ورځ د غرمې په وخت کې تړل کیږي. ستاسو ښوونځی به ستاسو ماشوم ته د دې په اړه چې هره ورځ ښوونځی کله پیل او پای ته رسیږي او د درسونو د وخت په اړه د معلوماتو یو مهال ویش چمتو کړی ورکړي.

په لومړنیو ښوونځیو کې، زده کوونکي معمولاً خپل درسونه په یوه ټولګي کې کوي او ځینې وخت د ښوونځي په کتابتون، جم یا کمپیوټر خونه کې زده کړې کوي. دوی معمولا د ډیری وخت لپاره دې کار ته ښوونکي لري.

په منځني ښوونځیو کې، زده کونکي معمولا د مختلفو درسونو لپاره د ټولګیو ترمنځ حرکت کوي، او د مختلفو مضامینو لپاره مختلف ښوونکي لري. د دوی مهالویش به دوی ته ووایي چې د هر درس لپاره کوم ټولګي ته لاړ شي او معمولا به ورته ووایی چې دوی به د کوم مضمون لپاره کوم ښوونکی ولري.

ډیری ښوونځي د بیروني لوبو ساحه لري، چې د لوبې ډګر بلل کیږي. دا ځینې وختونه د لوبې تجهیزات، باغ یا سرپناه لري. ماشومان کولی شي د سهار په رخصتی او د غرمې په وخت کې لوبې وکړي؛ او کله ناکله د ماسپښین وقفه هم شتون لري. ډیری درسونو کې به لوبې هم شاملې وي.

## په ښوونځي کې حاضري او غیر حاضري

د هغو ماشومانو والدین/پالونکي چې په ښوونځي کې راجستر شوي باید ښوونځي ته ووایي کله چې د دوی ماشوم د ناروغۍ یا کوم بل دلیل له امله ښوونځي ته نه ځي. دا د دې لپاره دی چې ښوونځی یوه شي چې ماشومان او ځوانان خوندي دي کله چې دوی ښوونځي ته نه وي راغلي. که ستاسو ماشوم باید له ښوونځي څخه غیر حاضر پاتې شي، تاسو باید ښوونځي ته خبر ورکړئ او علت یې هم ووایئ دا کار یا د تلیفون یا د بریښنالیک له لارې، په لومړۍ ورځ چې ستاسو ماشوم غیر حاضر وي، یا د رقعې له لارې کله چې دوی ښوونځي ته راستنیږي.

## تعلیمي نصاب

په سکاټلینډ کې ښوونځي له ۳ څخه تر ۱۸ کلنو ماشومانو او تنکي ځوانانو لپاره نصاب چمتو کوي (په دې معنی چې ټول هغه شیان چې په نرسري، ښوونځي او کالج کې تدریس کیږي) د سکاټلینډ نصاب هدف دا دی چې هر ماشوم یو:




بریالي زده کوونکی

ډاډمن شخص

مسؤل تبعه

اغیزمن مرسته کوونکی جوړ شي.

## د نصاب منځپانګه

نصاب اته برخې لري:

څرګند هنرونه
روغتیا او هوساینه
ژبې
ریاضی
دیني او اخلاقي زده کړه
ساینس
ټولنیزې مطالعې
ټیکنالوژي

د سکاټلینډ دمکتبونو په "لوړ پړاو" کې زده کونکي - په ۴، ۵ او ۶ کلونو کې، په ثانوي ښوونځیو کې د دې نصاب برخو کې مختلف وړتیاوې زده کولی شي.

## د ښوونځي اخلاق

په سکاټلینډ کې ښوونځي دا موخه لري چې دوی هغه ځایونه جوړ شي چیرې چې هرڅوک د خوندیتوب احساس کولی شي، پکې شامل او ښکیل وي، او چیرې چې هرڅوک یو څه ترلاسه کولی شي. د سکاټلینډ د ښوونځیو موخه د هر ماشوم لپاره د غوره زده کړې چمتو کول دي.

## له دې ډاډ ترلاسه کول چې ماشومان او ځوانان په ښوونځي کې ښه دي

ماشومان او تنکي ځوانان حق لري چې په کور او ښوونځي کې خوندي، سالم او د پاملرنې وړ وي. دا د هرچا دنده ده - والدین، ښوونکي، د ښوونځي ملاتړ کارکونکي- ترڅو ډاډه اوسي چې ماشومان او ځوانان په ښوونځي کې ښه او خوندي دي.

## په ښوونځي کې د زده کوونکو پالنه

ښوونکي په ښوونځي کې د ماشومانو او ځوانانو پاملرنه کوي. د مور او پلار/پالونکي په توګه، تاسو کولی شئ د ښوونځي د کارمندانو سره د هرې مسلې په اړه خبرې وکړئ چې ممکن ستاسو د ماشوم پر زده کړه اغیزه وکړي یا په ښوونځي کې د اندیښنې یا خپګان لامل شي.

که تاسو په لومړني ښوونځي کې د ماشوم مور او پالر یاست او غواړئ د خپل ماشوم په اړه د ښوونځي له کارمندانو سره خبرې وکړئ، تاسو باید د ښوونځي له دفتر نه لیدنه وکړئ، بریښنالیک واستوئ یا د ښوونځي دفتر ته د دې غوښتنې کولو لپاره تلیفون وکړئ. تاسو دا هم کولی شئ چې د خپل ماشوم سره یو نوټ یا یو لیک واستوئ چې مدیر ته یې ورکړئ، او له هغه څخه د یوې غونډې د تنظیم کولو یا برابرولو غوښتنه وکړئ.

په منځني ښوونځیو کې داسې ښوونکي شتون لري چې د "پاستورل کیر ټیچر" یا "لاربښود ښوونکي" په نوم یادیږي چې دنده یې د زده کونکو د هرې اندیښنې سره مرسته کول دي او دوی ته ملاتړ او مشوره ورکول دي. تاسو ممکن دمخه د خپل ماشوم د پاملرنې ښوونکي ته معرفي شوي یاست. هغه به لیواله وي چې ستاسو ماشوم په ټول وخت کې په منځني ښوونځي کې څنګه وخت تیروي او هڅه به وکړي چې تاسو سره د مور او پلار / پالونکي په توګه وخت په وخت خبرې وکړي.

که تاسو په منځني ښوونځي کې د ماشوم مور او پالر یاست او غواړئ د خپل ماشوم په اړه د ښوونځي له کارمندانو سره خبرې وکړئ، تاسو باید د ښوونځي له دفتر نه لیدنه وکړئ، بریښنالیک واستوئ یا د ښوونځي دفتر ته د دې غوښتنه کولو لپاره تلیفون وکړئ. یا تاسو کولی شئ د خپل ماشوم سره یو نوټ یا یو لیک واستوئ چې د دوی د پاملرنې ښوونکي یا مرستیال رییس ته یې ورکړئ او له هغوی د غونډې د تنظیم کولو غوښتنه وکړئ.

## دیني مراسم

په سکاټلینډ کې ټول ښوونځي یو ډول مذهبي لمانځنه یا "د تفکر لپاره وخت" لري. دا چې دا څو ځله او په کوم شکل کې پیښیږي له ښوونځي څخه تر ښوونځي پورې توپیر لري. دا کیدای شي هره اونۍ، یا په کال کې څو ځله وي.

مور او پلار حق لري چې خپل اولادونه له مذهبي مراسمو څخه وباسي؛ او د ځوانانو غوره توبونو ته هم باید درناوی وشي.

د خپل ماشوم د مدیر یا د پاملرنې/شاګردانو د ملاتړ/ لاربښود ښوونکو سره خبرې وکړئ که چیرې دا هغه څه وي چې تاسو یې د ښوونځي سره خبرې کول غواړئ.

## چلند او نظم

په سکاټلنډ کې ښوونځي اجازه نه لري چې زده کوونکي ووهي، یا هغوی ته په کوم بل ډول د تاوتریخوالي سزا ورکړي. فزیکي سزا د سکاټلنډ په ښوونځیو کې د قانون خلاف ده.

ښوونځي د ښه چلند د هڅولو لپاره مثبت چلند پالیسي لري ترڅو هرڅوک په ښوونځي کې خوندي احساس وکړي او د زده کړې وړ وي.

ښوونځي دا هم ډاډه کوي چې د نه منلو وړ چلند لکه ځورونې جدي نیول کیږي او کولی شي له داسې خلکو امتیازات بیرته واخلي، توقیف یې کړي او هغه زده کونکي خارج کړي چې چلند یې نورو ته زیان رسولی وي.

## ځورونه، توکم پالنه او مذهبي تعصب

د ځورونې د چلند له وجې ماشومان او تنکي ځوانان د ځورونې، ګواښ، وېرې یا د تنهایي احساس کوي. دا مخامخ یا هم آنلاین پیښ کیدی شي.

توکم پالنه د یو چا سره د دوی د نژاد، کلتور یا پوستکي رنګ له امله توپیر او غیر عادلانه چلند دی.

مذهبي تعصب کولی شي د دې لامل شي چې خلک له نورو خلکو سره په غیر عادلانه توګه مختلف چلند وکړي ځکه د دوی د مذهب له امله یا ځکه چې دوی نور فکر کوي او یا هم دا چې دوی د یو ځانګړي مذهب یا عقیدې سره تړاو لري.

ځورونه، توکم پالنه او مذهبي تعصب هیڅکله د منلو وړ نه دی. که ستاسو ماشوم په ښوونځي کې دا تجربه کړي، تاسو کولی شئ د هغه څه په اړیدلو سره مرسته وکړئ چې دوی یې په اړه څه وایي او د موضوع په اړه د ښوونځي سره هم اړیکه ونیسئ. سر معلم، لارښود، پالونکی/ د شاګردانو د ملاتړ ښوونکی به دا موضوع په جدي توګه په پام کې ونیسي او ستاسو د ماشوم په وړاندې د هر ډول ځورونې، توکمپالنې یا تعصبي چلند د مخنیوي لپاره به اقدام وکړي.

## اضافي ملاتړ ته اړتیا

قانون (د زده کړې لپاره د اضافي مالتړ قانون ۲۰۰۴) وایي چې هغه زده کونکي چې د زده کړې لپاره اضافي مرستې ته اړتیا لري باید دا ملاتړ ترلاسه کړي.

کیدای شي بیلابیل دلیلونه وي چې ولې یو زده کونکی د خپلې زده کړې لپاره اضافي ملاتړ ته اړتیا لري، د بیلګې په توګه په لوستلو کې ستونزې یا لیکل، معلولیت، د کورنۍ له خوا نه د محلي شورا لخوا ساتل کیږي، یا د غم تجربه کول یا تاوان. دا د سکاټلینډ په ښوونځیو کې د ماشومانو او ځوانانو لپاره خورا معمول دی چې دوی په زده کړې کې اضافي مرستې وغواړي او ترلاسه یې کړي. تاسو او ستاسو ماشوم به وکولای شئ چې له ښوونځي څخه د اضافي مرستې غوښتنه وکړئ کله چې مو ورته اړتیا وي.



## انګلیسي د اضافي ژبې په توګه (اي ای ایل) ملاتړ او د (اي ایس او ایل) وړتیا

یو ماشوم چې انګلیسي د اضافي ژبې په توګه کاروي د قانون لخوا پوښل شوي اضافي مرستې اړتیا ګڼل کیدی شي.

ښوونځي د هغو زده کونکو لپاره ځانګړي ډول ملاتړ وړاندې کوي چې انګلیسي د اضافي ژبې په توګه خبرې کوي او همدارنګه هغه ژبه چې دوی په کور کې خبرې کوي. دا د اي ای ایل خدماتو لخوا وړاندی کیږي.

هغه ځوانان چې څو ژبې وي کولی شي د اي ایس او ایل (انګلیسي د نورو ژبو د ویناوالو لپاره) وړتیاوې هم زده کړي چې هدف یې په انګلیسي کې د خبرو کولو، لیکلو، اوریدلو او لوستلو په برخه کې د پوهې او مهارتونو وده کول دي.

د خپل ماشوم له ښوونځي څخه وپوښتئ چې دوی څه ډول مرستې او وړتیاوې وړاندې کولی شي که تاسو فکر کوئ چې دا به ستاسو ماشوم سره مرسته وکړي.

سکاټلینډ مهم ګڼي چې هغه زده کونکي ولري چې په ډیری مختلف ژبو خبرې کوي او ځوانان به هڅوي چې په دی و ویاړي که چیرې دوی په ښوونځي کې د کارولو په پرتله په کور کې په بله ژبه خبرې کوي.

## د ښوونځي ورځني لګښت

که څه هم په سکاټلینډ کې د ښوونځي زده کړه وړیا ده، ځیني وختونه لګښتونه د ښوونځي پورې تړاو لري.

ځیني مضامین له والدینو څخه غوښتنه کوي چې د موادو لپاره لږ پیسي ورکړي، د بیلګې په توګه د کورني اقتصاد مضمون امکان لري د اجزاوو لپاره د پیسو غوښتنه وکړي. د موسیقی ځیني درسونه هم لګښت لري.

ځیني وختونه د ښوونځي سفرونو لپاره یا د هغو ورځو لپاره چې زده کونکو ته اجازه ورکول کیږي چې د ښوونځي د یونیفورم پرځای آرامی یا "خصوصي لباس" واغوندي کیدای شي پیسو ته ضرورت ولري. ځیني وختونه په ښوونځي کې کتابونه یا کیک پلورل کیږي، د کوم لپاره چې کیدای شي زده کونکي وغواړي چې پیسي له ځان سره راوړي.

که چیرې ستاسو اولاد په لومړني ښوونځي کې وي نو تاسو باید د مکتب د مدیر سره خبرې وکړئ که په منځني ښوونځي کې وي نو د لارښود/پالونکي/شاګرد ملاتړي ښوونکی سره د هر ډول لګښت په اړه خبرې کولای شئ.

ټول ماشومان باید د ښوونځي په ژوند کې په بشپړه توګه برخه واخلي.




## یونیفورم / د جامو مرستې

ډیری ښوونځي یونیفورم لري، پدې معنی چې زده کونکي باید د ځانګړو رنګونو جامې واغوندي. د ټیټ عاید لرونکي والدین کولی شي یو څه پیسې ترلاسه کړي چې د "جامو د مرستې" په نوم یادیږي ترڅو د دوی د ماشومانو لپاره د ښوونځي یونیفورم اخیستلو کې مرسته وکړي. په سکاټلینډ کې د هر ماشوم لپاره د جامو مرستې لږترلږه ۱۰۰ پونډه ټاکل شوي. د خپل ماشوم ښوونځي سره د جامو د مرستې او د درخواست کولو څرنګوالي په اړه خبرې وکړئ که تاسو فکر کوئ ستاسو کورنۍ د مرستې وړ وي.

ځینې ښوونځي د یونیفورم اضافي توکي او جمپرونه هم لري. پوښتنه وکړئ که ستاسو ښوونځی اضافي توکي لري چې در یې کړي.

زده کونکي معمولا د پي اي لپاره د جامو سیټ ته اړتیا لري. (فزیکي زده کړه، یا سپورټ/لوبې)، چې د پي اي کېټ په نوم یادیږي ، لکه لیګینګ، شارټس، ټی شرټ او د جم بوټان. ځینې ښوونځي د پي اي اضافي توکي هم لري زده کونکي کولی شي دا کېټونه ترلاسه کړي یا یې پور واخلي. یو ځل بیا، په دې اړه خپل لاربښود/څادري پاملرنې/شاګردانو د ملاتړ ښوونکي سره خبرې وکړئ.

## د غرمې ډوډۍ / د ښوونځي وړیا خواړه




د ښوونځي وړیا خواړه د لومړني ښوونځي ۱،۲ او ۳ ټولګي ماشومانو لپاره (او په ګلاسګو کې د لومړني ښوونځي ۴ صنف لپاره) چمتو کیږي. د لومړني ښوونځي ۴ صنف څخه تر ایس۶ پورې ماشومان هم کولی شي د ښوونځي وړیا خواړه ترلاسه کړي که چیرې دوی د یوې کورنۍ څخه وي چې ټیټ عاید لري. لوړ عاید لرونکي کورنۍ باید د لومړني ښوونځي له ۴ صنف څخه تر ایس۶ پورې د ماشومانو لپاره د ښوونځي خواړو لپاره پیسې ورکړي. که تاسو فکر کوئ چې ستاسو ماشوم ممکن د ښوونځي وړیا خوړو مستحق وي، له ښوونځي څخه پدې اړه پوښتنه وکړئ او د نوم لیکنې غوښتنه هم وکړئ.

ښوونځي د زده کونکو لپاره د ډوډۍ په ځانګړي ځای یا کیفیټیریا کې چمتو کوي. زده کونکي کولی شي د غرمې ډوډۍ له کور څخه راوړي یا که دوی په لنډ مساحت کې ژوند کوي، دوی کولی شي د غرمې ډوډۍ لپاره کور ته لاړ شي.

## ناشته

د سکاټلینډ د ښوونځیو ډیری زده کونکي د سهار د درسونو ترمینځ د وقفې په جریان کې د خوړلو لپاره یو کوچنی ناشته له ځانه سره وړي (تفریح ځینې وختونه وقفه یا "د لوبې وخت" ورته هم ویل کیږي). د دوی ډوډۍ ممکن د میوو یوه ټوټه، سینډوچ یا بسکټ وي. په ډیری ښوونځیو کې کافیټیریا د سهار په وخت کې د ناشتو پلورلو لپاره خلاص وي او ځینې ښوونځي ټیک شاپونه لري چیرې چې زده کونکي کولی شي خواړه هم واخلي. ډیری ښوونځي د الرجی له امله په دوی کې د مميلي سره هیڅ ډول ډوډۍ ته اجازه نه ورکوي.

## کلپونه او سپورت

ډیری ښوونځي کلپونه او سپورت ټیمونه لري چې زده کونکي کولی شي د درسونو او/یا د ښوونځي ساعتونو څخه بهر په کي برخه واخلي، د بیلګي په توګه، د غرمې ډوډۍ یا د ښوونځي وروسته. ډیری یې وړیا دي که څه هم ځیني یې په پیسو دي. ښوونځی کولی شي تاسو ته د دې په اړه نور معلومات درکړي چې څه امکان شتون لري، او دوی څنګه کولی شي د برخي اخیستو په هر لګښت کي مرسته وکړي.

## سفرونه

د ډیرو ښوونځیو زده کونکي کله ناکله په زړه پوري ځایونو لکه موزیمونو، تاریخي ځایونو او تفریحي پارکونو ته ورځي. یا اوږد سفرونه کوي، د بیلګي په توګه، د زده کړې د یوې برخي په توګه، د بهر تعلیمي مرکزونو ته تلل. ډیری دا سفرونه وړیا دي که څه هم ځیني یې لګښتونه لري. ښوونځی باید تاسو ته د هر هغه سفر په اړه ووایی چې ستاسو ماشوم پکي دخیل وي او د اړتیا په صورت کي د هر ډول لګښتونو سره مرسته د وړاندیز کوي.

## د کور زده کړه یا په کور کي تعلیم

په سکاټلینډ کي کورنی حق لري چې خپلو ماشومانو ته په کور کي تعلیم ورکړي. په هرصورت، دا یو انتخاب دی چې یوازې د والدینو یو کوچنی اقلیت یې کوي.

## ښوونځیو ته د معلوماتو ورکول

په سکاټلینډ کي ښوونځي معمولا د ماشومانو په اړه معلومات راټولوي، لکه د دوی مذهب، او شالید، د بیلګي په توګه. دوی په کومه ژبه خبري کوي، یاکه دوی اضافي اړتیاوي ولري. دا د دوی سره مرسته کوي ترڅو د دوی تولنه ښه پوهه کړي او د ماشومانو لپاره د غوره زده کړې او ملاتړ لپاره پلان جوړ کړي. دا معلومات خوندي او محرم ساتل کیږي.

## ترانسپورت

ماشومان په مختلفو لارو ښوونځي ته سفر کوي، دا دې پورې اړه لري چې دوی چیرته ژوند کوي او ښوونځي ته څومره نږدې دي. ډیری ماشومان ښوونځي ته په خپو ځي. ځیني د موټر، بس یا بایسکل له لارې سفر کوي. هغه زده کوونکي چې له ټاکلي فاصلې څخه زیات سفر وکړي د وړیا ترانسپورت حق لري. ستاسو محلي شورا کولی شي پدې کي مرسته وکړي.



## د والدینو ښکیلتیا

والدین/پالونکي په کلکه هڅول کیږي چې په هغو ښوونځیو کې فعاله ونډه واخلي په کوم کې چې د دوی ماشومان درس وایي، او د خپلو ماشومانو د زده کړې ملاتړ وکړي. ښوونځي والدینو ته مشوره ورکوي چې څنګه دوی کولی شي د خپلو ماشومانو سره د دوی په زده کړې کې مرسته وکړي. په لومړني ښوونځي کې د زده کونکو والدین هڅول کیږي چې د سر معلم سره اړیکه ونیسي که چیرې دوی د خپل ماشوم په اړه کومه خبره وي چې دوی وغواړي پرې وغږیږي. د منځني ښوونځي زده کونکو لپاره، والدین کولی شي د زده کونکي له ملاتړ ښوونکي سره اړیکه ونیسي. د کال په مختلفو وختونو کې والدینو ته بلنه ورکول کیږي چې ښوونځي ته راشي او د خپلو ماشومانو له ښوونکو سره خبرې وکړي چې دوی څنګه د دوی زده کړې پرمخ وړي. والدینو ته د ساتیرۍ او تفریحي پیښو کې بلنه ورکول کیږي چې په کې برخه واخلي.

## د ښوونځي څخه بهر د ترسره کولو لپاره شیان

ستاسو ماشومانو ته د ترسره کولو لپاره ډیرې وړیا، ساتیرۍ شیان شتون لري کله چې دوی په ښوونځي کې نه وي.

کتابتونونه هغه ځایونه دي چیرې چې تاسو کتابونه پور کولی شئ. ځیني وختونه تاسو کولی شئ کمپیوټر هم وکاروئ، سي ډي په پور واخلئ، آډیو کتابونه په پور واخلئ، او د هنر او هنري فعالیتونو سره یوځای شئ. په کتابتون کې د کډون او کتابونو پور اخیستل وړیا دي. ستاسو محلي شورا کولی شي تاسو سره د نورو معلوماتو په موندلو کې مرسته وکړي.

سکاټلینډ ډیری موزیمونه لري چې ننوتل ورته وړیا دي. موزیمونه هغه ځایونه دي چیرې چې په زړه پوري شیان ساتل کیږي او ښودل کیږي، او ډیری یې د ماشومانو او ځوانانو لپاره ځانګړي فعالیتونه او ساتیري شیان لري. په سکاټلینډ کې ځیني وړیا موزیمونه لاندني دي:

د سکاټلینډ ملي موزیم، اډینبورګ
د ماشومتوب میوزیم، اډینبورګ
د کیلوینګرو میوزیم، ګلاسګو
د ریورساید میوزیم، ګلاسګو
د خلکو مانۍ، ګالسګو
د ابرډین سمندري میوزیم، ابرډین
د بروټي کیسل میوزیم، ډنډي
انورنس میوزیم او آرټ ګالرۍ، انورنس

ځیني سیمې د هنر ګالري هم لري کوم چې وړیا دی او د ساتیري لپاره هم وړ دي.

سکاټلینډ ډیری پارکونه او باغونه هم لري چیرې چې تاسو کولی شئ لوبې وکړئ، شاوخوا وګرځئ، خپل سپي وګرځوئ، یا پکنیک وکړئ. ځیني یې کوچني محلي پارکونه دي، د ټالونو او نورو لوبو تجهیزاتو سره، او ځیني یې لوی ملي پارکونه دي. ډیری پارکونه په بشپړه توګه وړیا دي. ځیني لوی ملي پارکونه د ننوتلو لپاره وړیا دي، مګر تاسو باید د پارکینګ لپاره پیسې ورکړئ. ستاسو محلي شورا کولی شي تاسو ته ستاسو په سیمه کې د پارکونو په اړه نور معلومات درکړي.

د سکاټلینډ ځیني ساحلي برخي شګني څنډې لري چیرې چې د لوبې کولو او لامبو کولو لپاره ساتیري کیدی شي (په دې شرط چې ساړه اوبه تاسو ته مشکل نه وي!).

ډیری شوراګاني د لامبو حوضونه او د تفریح مرکزونه چمتو کوي چیرې چې تاسو سپورتونه لکه فوټبال، ټینس یا میزي ټینس کولی شئ. ځیني یې په ټاکلي وختونو کې ماشومانو ته وړیا ننوتل وړاندیز کوي (د بیلګې په توګه په اوړي کې) یا په ټول کال کې. د خپل محلي شورا څخه پوښتنه وکړئ چې دوی څه وړاندیز لري.



# ګټورې اړیکې

## تعلیم

له ۳ کلنۍ نه تر ۱۸ کلنۍ پورې نصاب
education.gov.scot/parentzone/learning-in-scotland/About%20the%203-18%20curriculum

د والدینو لپاره عمومي معلومات
**education.gov.scot/parentzone**

په ښوونځیو کې د والدینو د ښکیلتیا په اړه معلومات
**www.connect.scot**

په سکاټلینډ کې د پناه غوښتونکو او مهاجرینو لپاره د زده کړې لارښود
www.gov.scot/Publications/2005/05/04143503/35049

د زده کړې لپاره اضافي ملاتړ، د والدینو لارښود
enquire.org.uk/information/parents-guide

## د مشورې خدمتونه

د سکاټلنډ د کډوالو شورا
www.scottishrefugeecouncil.org.uk

د اتباعو مشورتي اداره
www.citizensadvice.org.uk/scotland

## محلي حکومت

www.cosla.gov.uk/scottish-local-government

## خوندي پاتې کېدل

د ځورونې ضد خدمات
respectme.org.uk

د ماشومانو وړیا مرستې لاین
**www.childline.org.uk / 0800 1111**

## له ښوونځي بهر

**د کولو لپاره وړیا شیان**
www.visitscotland.com/see-do/attractions/free
**د هیواد پارکونه**
www.list.co.uk/article/69045-the-best-country-parks-near-glasgow-and-edinburgh
**وړیا موزیمونه**
www.museumsassociation.org/members-free-entry/scotland
www.moneysavingexpert.com/deals/free-museums-and-art-galleries
**یانګ سکاټ یا ځوان سکاټ**: یوه خیریه موسسه چې په سکاټلینډ کې د ۱۱ نه تر ۲۶ کلونو عمر لرونکو ځوانانو لپاره کارت وراندې کوي، چې د سفر تخفیف په شمول بیلابیل ګټې لري:
**young.scot/the-young-scot-card**



# لوړو زده کړو ته د پناه غوښتونکو لاسرسی

پناه غوښتونکي او هغه کسان چې په برطانیه کې د بشردوستانه شرایطو له مخې د دوی د کډوالۍ وضعیت له امله پاتې کیږي د سکاټلینډ لپاره د زده کونکي جایزې ادارې (ایس ای ای ایس) له لارې نه ملاتړ کیږي که څه هم چې دوی ډیری په سکاټلینډ کې زده کونکي تمویل کوي.

په هرصورت، نور ملاتړ لکه سکالرشپونه او د نورو سازمانونو څخه چې د پناه غوښتونکو زده کونکو یا د مهاجرت اسنادو نه لرونکو ملاتړ کوي شتون لري. تاسو له دوی څخه ګټه اخیستلای شئ.

## سکالرشیپونه یا بورسونه

بورسونه د زده کړې فیس لګښت پوره کوي او په دې کې د مطالعې اړوند اړین لګښتونو لپاره تخصیص شامل دي. د بورسونو په اساس پوهنتون ته د ننوتلو په لټه کې، غوښتونکي باید د یو سي ای ایس له لارې د خپل د خوښې کورس لپاره غوښتنه وکړي.

پوهنتونونه د احتمالي زده کونکو څخه د بورسونو غوښتنلیکونه ګوري چې:

* په موسسه کې د مطالعې لپاره مشروط یا غیر مشروط وړاندیز ونیسئ چې دوی یې غوښتنه کړې؛ او

* د مهاجرینو د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د ۱۹۵۱ کنوانسیون (له دې وروسته "کنوانسیون") لاندې د کډوال په توګه د پیژندلو لپاره د کورنیو چارو وزارت ته غوښتنلیک سپارلی یا دوی د هغه چا پورې تړاو لري چې تر اوسه یې پریکړه نه ده ترلاسه کړې د کورنیو چارو د وزارت نه یا

* د بشري حقونو په اړه د اروپا کنوانسیون د ۸ مادې پر بنسټ په برطانیه کې د پاتې کیدو لپاره وړاندیز شوی، په دې شرط چې زده کونکی په سکاټلینډ، انګلستان، ویلز یا شمالي ایرلنډ کې د اړونده زده کونکي تمویل کونکي اداري څخه د زده کونکي ملاتړ وړ نه وي.

غوښتنلیکونه به د هغو زده کونکو څخه هم په پام کې ونیول شي چې دمخه یې د زده کړې کورس پیل کړی مګر وروسته یې د پناه غوښتنه کړې او نور نشي کولی خپل اصلي تمویل یا مالي مرستې ته لاسرسی ومومي. په دې قضیو کې، دا به اړین وي چې تاسیس شي چې د مطالعې لپاره اصلي تمویل نور شتون نلري او غوښتونکي به اړین وي چې د ملاتړ شواهد وړاندې کړي.

## د پناه غوښتونکو لپاره بورسونه په دې ځای کې شتون لري:

د سټراټکلایډ پوهنتون له لارې
**asylum-scholarship@strath.ac.uk**

د دې سکالرشپ په اړه نور تفصیل دلته موندل کیدی شي
**www.strath.ac.uk/studywithus/scholarships/asylumseekerscholarship**

د ګلاسګو پوهنتون له لارې
mrio-scholarships@glasgow.ac.uk

د دې سکالرشپ په اړه نور تفصیل دلته موندل کیدی شي
**www.gla.ac.uk/scholarships/humanitarianscholarships/#/eligiblecountries**
**www.gla.ac.uk/scholarships/humanitarianscholarships/**

## د فیس معافیت او د کور فیسونه

د سکاټلینډ لویدیز پوهنتون او د ګلاسګو پوهنتون دواړه د فیس معافیت او د کور فیس ورکول په هره دوسیه جلا جلا څیړي او په پام کې نیسي.

د کارنیګي ټرسټ د هغه زده کونکو لپاره د مالي تمویل احتمالي سرچینه ده چې د یو څه مودې لپاره په سکاټلینډ کې اوسیږي. د کارنیګي ټرسټ کولی شي د فیسونو سره مرسته وکړي که چیرې یو پوهنتون موافقه کړې وي چې په استثنایی اساس د کور فیس ورکولو په اړه غور وکړي.

www.carnegie-trust.org/schemes/undergraduate-schemes/fee-assistance.html#background

## د ګلاسګو پناه غوښتونکو او مهاجرینو شبکه یا (GRAMNet)

د ګالسکو پوهنتون هم له پناه غوښتونکو سره مرسته کوي. د دې ډلې نوم ګرامنیټ دی GRAMNet

**www.gla.ac.uk/research/az/gramnet**

تاسو کولی شئ د شبکې مدیر ډیوډ رایټ ته عمومي پوښتنې په دې بریښنالیک کې ولیږئ:


**david.wright@glasgow.ac.uk** یا **gramadmin@glasgow.ac.uk**

یا په لیکلي بڼه مونږ. ته په لاندې پتې لیک را ولیږئ:

11 The Square, University of Glasgow, Glasgow, G12 8QQ


د دې مسلو په اړه مشوره او د نورو قانوني مشورو لپاره د سکاټلینډ د کډوالو شورا او/یا د انګلستان مناسبو ادارو ته روجع کولای شئ.


د سکاټلینډ د تعلیمي انسټیټیوټ لخوا چاپ او خپور شوی
46 Moray Place, Edinburgh EH3 6BH, November 2019



LIBRARY



NOTES

SUPERMARKET
SALE


SHOP



WELCOME!
